**د بلخ پوهنتون د ملي او نړیوالو علمي ـ څېړنیزو مجلو لپاره د مقالو د لیکلو لارښود**

دغه لارښود د بلخ پوهنتون د ملي او نړیوالو علمي ـ څېړنیزو مجلو لپاره د علمي ـ څېړنیزو مقالو د منلو په موخه ترتیب شوی، ترڅو مقالې د جوړښت او محتوا له پلوه د همدې لارښود پر بنسټ چمتو او تنظیم شي.

د علمي مقالې اساسي برخې

سرلیک، لیکوال/لیکوالان، اړوند بنسټ، لنډیز، کلیدي وییونه، سریزه، مواد او میتود، موندنې، بحث، پایله او ماخذونه.

۱ -سرلیک(Title)

د استول کېدونکې مقالې سرلیک باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱ .نوی، اصیل، ګټور او د څېړنې وړ وي؛

۲ .هر اړخیز وي او د څېړنې محتوا په سمه توګه منعکس کړي؛

۳ .لنډ (له ۲۰ کلمو څخه کم)، مشخص، زړه راښکونکی او له مخففونو، سوداګریزو نومونو او اضافي کلمو څخه پاک وي؛

۴ .د پوښتنې په بڼه نه وي لیکل شوی.

۲ -لیکوال / لیکوالان(Author/Authors)

د لیکوال معلومات د سرلیک لاندې په ښي اړخ کې لیکل کېږي او په ورپسې کرښه کې د دیپارتمنت، پوهنځي، ادارې یا بنسټ نوم، برېښنالیک پته (Email Address) او د څېړونکي د پېژندنې شمېره (ORCID) درج کېږي.

یادونه) ۱ :(که مقاله د څو لیکوالانو له خوا لیکل شوې وي، مسؤل لیکوال باید مشخص شي.

یادونه) ۲ :(له هغو افتخاري او تشریفاتي لقبونو څخه چې علمي ارزښت ونه لري، باید ډډه وشي.

۳ -لنډیز (Abstract)

د بلخ پوهنتون د علمي ـ څېړنیزو مجلو د مقالو لنډیز باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱ .لږ تر لږه ۱۵۰ او ډېر تر ډېره ۲۵۰ کلمې ولري او په یوه پاراګراف کې ولیکل شي؛

۲ .له متن څخه خپلواک، لنډ، منظم او له قضاوتي څرګندونو لرې وي؛

۳ .لنډيز بايد د مقالې په اصلي ژبه وليکل شي او انګليسي ژبې ته هم وژباړل شي؛

۴ .د علمي مقالې د لنډيز جوړښت بايد په لاندې ترتيب وي:

- د ستونزې شالید په یوه جمله کې، د پخوانیو څېړنو د پایلو په استناد؛
- د څېړنې موخه په یوه جمله کې، چې د څېړنې هدف روښانه کړي؛
- د څېړنې میتود په دوو جملو کې، چې د معلوماتو د راټولولو ډول، احصایوي ټولنه او د نمونې اخیستنې څرنګوالی پکې بیان شي؛
- د څېړنې مهمې او اساسي موندنې په یوه یا دوو جملو کې وړاندې شي.

یادونه :په لنډیز کې د جلا سرلیکونو لکه سریزه، موخه، میتود، موندنې او پایلې له لیکلو څخه ډډه وشي.

۴ -کلیدي وییونه(Keywords)

کلیدي وییونه هغه اصطلاحات دي چې د مقالې موضوع څرګندوي او د علمي ټولنې له خوا د مقالې د موندنې، راایستنې او پېژندنې لپاره کارول کېږي. کلیدي وییونه باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱ .معمولاً په مقاله کې ډېر کارېدونکي مفاهیم او اصطلاحات وي؛

۲ .د مقالې محتوا منعکس کړي او د اصلي سرلیک له کلمو څخه نه وي اخیستل شوي؛

۳ .لږ تر لږه پنځه (۵) کلیدي وییونه ولري؛

۴ .د الفبا د تورو له مخې ترتیب شوي وي.

۵ -سریزه(Introduction)

د مقالې سریزه باید لاندې موضوعات په ځان کې ولري:

۱ .د څېړنې د ستونزې معرفي کول؛ یعنې روښانه شي چې څوک، چېرته او کومې پایلې ته رسېدلي دي، او موجوده تشه یا نیمګړتیا څه ده چې د هغې د ډکولو لپاره دغه څېړنه ترسره کېږي؛

۲ .د څېړنې موضوع باید د ترسره شویو مطالعاتو او علمي شواهدو په رڼا کې تشریح او تبیین شي؛

۳ .په سریزه کې د څېړنې د موخو او اهمیت تر بیانولو وروسته باید څرګنده شي چې څېړونکی کومو پایلو ته د رسېدو هڅه کوي؛

۴ .د څېړنې پوښتنې یا فرضیې، د څېړنې مېتود او د موضوع مخینه باید بیان شي.

یادونه :په سریزه کې دې د جلا سرلیکونو لکه د څېړنې موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې اهمیت، د څېړنې مخینه، موندنې او پایله نه لیکل کېږي.

۶ -مواد او کاري مېتود(Methods & Materials)

د دې برخې اساسي عناصر په لاندې ډول دي:

۱ .د څېړنې طرحه(Research Design)

- د څېړنې ډول (تجربوي، سروېز، همبستګي، کیفي او نور) او د هغې د ټاکلو دلیل؛
- د خپلواکو، تړلو او کنټرولېدونکو متغیرونو دقیق تعریف؛
- په تجربوي څېړنو کې د متغیرونو د کنټرول یا بدلون څرنګوالی، او په غیرتجربوي څېړنو کې د ډلو د وېش څرنګوالی.

۲ .احصایوي ټولنه او نمونه(Participants / Sample)

- د نمونې بشپړ مشخصات؛ لکه شمېر، عمر، جنسیت او د ګډونوالو نورې ځانګړنې؛
- د نمونې د ټاکلو طریقه (تصادفي نمونه اخیستنه، لاسرسی لرونکې نمونه اخیستنه او نور) او اخلاقي ملاحظات (رضایت‌لیک او ورته نور موارد).

۳ .د معلوماتو د راټولولو وسایل(Instruments / Measures)

- د کارېدونکو وسایلو پېژندنه؛ لکه پوښتنلیک، ازموینه، مقیاس او مرکه؛
- د نمرې ورکولو د طریقې او د دغو وسایلو د روان‌سنجیزو ځانګړنو (اعتبار او پایښت) تشریح.

۴ .د څېړنې د پلي کولو او معلوماتو د راټولولو پړاوونه(Procedure)

- د څېړنې د پلي کولو بهیر په زماني ترتیب سره، ګام پر ګام تشریح کول؛

- د لابراتواري پروتوکولونو یا ساحوي پړاوونو جزئیات بیانول.

۵ .د معلوماتو د تحلیل لارې چارې(Data Analysis)

- د هغو احصایوي سافټویرونو نومونه چې په څېړنه کې ترې ګټه اخیستل شوې وي؛ لکه SPSS او R ؛
- د معلوماتو د تحلیل لپاره د کارېدونکو احصایوي ازموینو ډولونه؛ لکه T-Test او ANOVA.

۷ -موندنې / پایلې(Results)

موندنې د احصایوي او توصیفي معلوماتو مجموعه ده چې په تفصیلي ډول او د احصایوي نښو؛ لکه عددونو، ارقامو او نورو شاخصونو په وسیله تشریح کېږي. د اړتیا په صورت کې د موضوع له نوعیت، متغیرونو او ارقامو سره سم له ګرافونو، چارټونو او نورو مناسب بصري بڼو څخه هم استفاده کېدای شي.

یادونه :د جدولونو تشریحي سرلیکونه باید د جدولونو په پورتنۍ برخه کې، او د شکلونو او ګرافونو تشریحات باید د هغوی په لاندې برخه کې ولیکل شي.

۸ -بحث(Discussion)

په دې برخه کې د څېړنې د موخو په پام کې نیولو سره، ترلاسه شوې اصلي پایلې په لنډه توګه تفسیر او تحلیل کېږي. د بحث د لیکلو پر مهال باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

۱ .د بحث په پیل کې د مهمو موندنو لنډیز په یوه پاراګراف کې وړاندې شي؛

۲ .د څېړنې پایلې له پخوانیو څېړنو سره پرتله شي او د هغو ترمنځ ورته والی او توپیرونه روښانه شي؛

۳ .د څېړنې د قوت او ضعف ټکي بیان شي او د اړتیا په صورت کې د راتلونکو څېړنو لپاره وړاندیزونه وړاندې شي.

یادونه :په ساحوي څېړنو کې موندنې او پایلې د همدې برخې پر بنسټ ارزول او په پام کې نیول کېږي.

۹ -پایله(Conclusion)

پایله د څېړنې د موندنو او لاسته راوړنو انعکاس دی او باید د څېړنې له محتوا څخه بهر مطالب پکې رانشي. د پایلې په لیکلو کې باید له اوږدو جملو، د متن له تکراري معلوماتو، انځورونو او جدولونو څخه ډډه وشي. د اړتیا په صورت کې د څېړونکي وړاندیزونه د پایلې په وروستۍ برخه کې، پرته له جلا سرلیک څخه، ذکر کېدای شي.

یادونه :ټول جدولونه او ګرافونه باید د A4 اندازې د عمودي (Portrait) مخ په بڼه د Word په سند کې تنظیم شي.

۱۰ -د ارجاع ورکولو تګلاره

په دې مجله کې ارجاع ورکول د متن دننه (In-text Citation) ترسره کېږي او د «APA» د سبک له مخې تنظیمېږي.

۱۱ -ماخذونه(References)

د بلخ پوهنتون د ملي او نړیوالو علمي مجلو د ماخذونو ترتیب باید د «APA» د ارجاع ورکولو د طریقې له مخې تنظیم شي.

۱۲ -د مقالو د قلم او اندازې د تنظیم لارښود:

| د بلخ پوهنتون د ملي مجلو لپاره د مقالو د قلم او اندازې د تنظیم لارښود | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **موضوع** | **ژبې** | | | **دفونټ ډول** |
| | عربی | دری | پشتو | |
| **د مقالې عنوان** | 14<br>بولد | ۱۴<br>بولد | ۱۴<br>بولد | BahijZar |
| د لیکوالانو نومونه | ۱۱<br>بولد | ۱۱<br>بولد | ۱۱<br>بولد | BahijZar |
| **د لنډيز متن** | ۱۲<br>بولد | ۱۲<br>بولد | ۱۲<br>بولد | BahijZar |
| **د داخلي عنوان متن** | ۱۲<br>بولد | ۱۲<br>بولد | ۱۲<br>بولد | BahijZar |
| **کلیدي کلمې** | ۱۲ | ۱۲ | ۱۲ | BahijZar |
| **دمقالې متن** | ۱۲ | ۱۲ | ۱۲ | BahijZar |
| **لنډيز او د انګليسي کلمې** | 12 | 12 | 12 | Times New Roman |
| **د مقالې انګليسي متن** | 12 | 12 | 12 | Times New Roman |
| **اخځليکونه** | د APA سیستم د مېتود له مخې تنظيږي. | | | |